آریانا افغانستان آنلاین
ملی، سیاسی، علمی، ادبی او تاریخی
http://www.arianafghanistan.com

دوکتور محمداکبر یوسفی ۲۰۲۱/۰۱/۲۵

# «د لیبرالیزم او نشنلیزم جدا ل»
# ته یوه کتنه!

د ۲۰۲۱م کال د جنوری د میاشتی په شلمه نیټه، د جهان د لوی «قدرت»، چې د لویی «دیموکراسی» شهرت موندلی، شپږڅلوېښتم (۴۶.) انتخابی جمهور رئیس ،«جو بایدن» (Joe Biden) خپل مقام رسماً اشغال کړ. دا ورځ د ډېرو له خوا، د دیموکراسی د بیا "بریالیتوب" په نوم هم یاد سوی، او ځینی حتی د "بیا زیږیدنی" خبره هم کړی. بیله شکه، چې دا بریالیتوب، د "پاپولیزم"، "نیشنلیزم" او "نژادی تبعیض" پرخلاف پیژندل کیږی، چې په تیرو څلورو کلونو کښی د دنیا په ټولو برخو او هم د دی لوی قدرت په سیاست کښی، د "پاپولیزم" ، "راسیزم" او "نژادی تبعیض" د سیوری د تسلط په علت، سخت تشویشونه موجودی وی. په همدی کلونو کښی د نمونی په توګه د افغانستان په بحرانی ټولنه کښی تر هری زمانی، زیات، راسیستی تمایلاتو ته لمن وهل کیده او تر اوسه هم، دوام لری.




څه موده د مخه د "آریانا افغانستان آنلاین" په "سایت" کښی دا مطلب: «**د لیبرالیزم او نشنلیزم جدال**»، په سترګه بریښیدونکی سوه، چې د دی لیکوال، لیکنه می په لمړی ځل ولوست. په هغه ورځ د مقالی لومړی کربښه ذهناً سخت مصروف کړم چې داسی لیکل سوی وه: « **د پخواني شوروي اتحاد سقوط، په امریکا او اروپا کي د لیبرالو دیموکراسیو_یو مهم بریالیتوب وګڼل شو او دا فکر چه لیبرالیزم (Liberalism) یوه تلپاتي ایدیولوژي ده ډیر قوت وموند. لیبراللنو فکر کاوه چه نشنلیزم (Nationalism) نور یوه پوچ شوي او مصرف شوي ایدیولوژي ده او کله به هم په یو ګواښ بدله نه شي.**»

دا خلصه ذهنی حکم او نتیجګیری، سمدستی د «البرت آینشتاین» څو مقولی پرله پسی را په یاد کړی، چې ویلی: « **دوه شیان بی نهایته دی، کائنات او انسانی حماقت، مګر د کائنات په باب تر اوسه پوری مطمئن نه یم.**» او په بل ځای کښی داسی وائی: «**تخیل/ تصوری قوت تر پوهی مهمتره ده، دا ځکه چی پوهه محدوده ده**» او کله چی د **"فراست او فهم"** په باب خبری کوی، داسی وائی چی د **فراست "قابلیت په تغییر"** کښی معلومیږی. او کله چی می دا مقوله هم ولوستله چی وائی: « **ټول شیان، مهم وبوله، لیکن هیڅ یو جدی مه نیسه**»، نو می زړه، یو څه آرامش و موند، دا ځکه چی په اوسنی شرایطو کښی زموږ دا ډول لیکنی، بیله هغی بی بیه دی، او په دی باب هم «آینشتاین»، داسی ویلی: « **هغه څه چی بی بیه وی، هیڅ ارزش نلری.**» که د محترم لیکوال، د دی اصطلاحاتو څخه ئی هدف «آیدیالوژیکی» او هم د تبلیغاتی میدان د بحث پرانیستل وی، نو سمدستی د خبری ختم اعلانوم. دلته زما قناعت د

«کارل رایموند پوبر» د نتیجگیری پر اساس ده، چې ویلې: «**تولې آیدیولوژیکانې فقط تشې وعدې دي**»، نور کوم ارزش او هم اثر نلرې. «پوپر» په خپله پر داسې نظریو باندې باور نه درلود، نو د ده پر دې نتیجګیرې، زه هم، د دې لیکوال پر مقایسوی نظر باندې، کوم ارزش نه ورکوم او د بحث ضرورت اوعلاقه هم وجود نلرې. مګر کله چې د سیستمونو موضوع وی، او په تولنیز ژوند کښې د اقتصادی، اجتماعی او سیاسی اړیکی او اجتماعی عدالت مطرح وی چې د انسان حرمت ته پاملرنه وسې، نو بیا واقعیتونه فرق کوی. زه په خپله د دیموکراسی پر مفهوم باندې، د هغو «فیلسوفان» او سیاسی «تیئوریسنانو» پر نتیجګیریو باندې زیاتره، باور لرم، او د هغو د بیان سوی مفاهیمو څخه پیروی هم معقول بولم، کوم چې «دیموکراسی»، د یوی «تجربی» په معنی قبلوی او پدې باور ندی چې ګواکې «**دیموکراسی، د خلکو حکومت پر خلګو او د خلګو په واسطه د خلکو د پاره وی.**» او لکه څنګه چې اوسنی افغانی قدرتمندان، د عوامفریبی په مقصد، په افغانستان کښې د «ولسواکی» او یا «مردم سالاری» کلمات، هم په خوله راوړی. د شلمې «پیړی» نامتو فیلسوف، «کارل رایموند پوبر» پدې عقیده وو، چې د بشریت په تأریخ کښې، داسې یو حکومت هیڅکله ندی تیر سوی. ده، دائماً د «منطقی انتقاد» څخه حمایت کاوه، او ویلې چې «**پرېږدی چې تیئوریکانې مړی سی، نه انسانان**» او همدا رنګه، ده ، «تیئوری» د "تصدیق" وړ نه بلل، بلکه دا تأکید ئې هم کاوه، چې هره تیئوری تر هغه لحظې پوری اعتبار لری، چې نتائج ئې د فرضیې د انتظار سره تطابق ولری او دا به ئې هم ویل، چې د هری تیئوری د غلط ثابتولو امکان هم له نظره لیری و نه ساتل سی او پدې لاره کښې، باید دائمی تجربې د غلطې د موندلو په هدف، دوام ولری. د «دیموکراسی» څخه، چې د یوی تجربی په توګه توصیه کوله، همیشه تآکید کاوه، چې «**په دیموکراسی کی مهمه نده، چې څوک حکومت کوی، بلکه په داسی حکومت کښې، باید دا امکان وجود ولری ، چې د وینې د تویولو پرته، د بدلون اقدام او د حکومتونو، لیری کول مجاز وی.**»

د «پوپر» تأکید دا وو، چې د غلطیو څخه باید زده کړه په پام کښې ونیول سی او دائماً د غلطیو د اصلاح کولو د لاری څخه، سیتسمونه داسی عیار کړل سی چې، پر انسانانو باندې د هر ډول استبداد، د کمولو په هڅه کی بوخت وی او هم د ټولنې د علاقمند انسانانو د فعالیت چې د ټولنې د سرنوشت په باب هڅې کوی، باید داسې زمینې برابری وی چې، حاکم قدرتونه، د دوی د هڅې مانع و نه ګرځی.

د مفهوم په لحاظ، «دیموکراسی» چې ویل کیږی مختلف اشکال هم لری، مګر یو مفهوم ادا کوی یعنی هدف، یوه دیموکراسی ده. دیموکراسی د «لیبرالانو» په انحصار او یا د بلی ډلی، ملکیت ندی، د دیموکراسی مفهوم ته د «لیبرال دیموکراسی»، «ملی دیموکراسی» یا «مرکزی دیموکراسی» او تر داسې نورو نښانی لاندی، لکه څنګه چې اوریدل سوی، مهر وهل، د دیموکراسی د تحریف معنی لری. اوس که د لیکونکی هدف د کوم «سیاسی تشکل» او یا د کوم «ګوند » څخه مطلب وی، نو، پداسی بحث کی دا لیکوال د داخلیدو علاقه نلری. مګر کله چې سیستمونه مقایسه کیږی، لازمه ده چې د علمی طریقو له مخې، د حقایقو پر بنسټ، صورت ومومی. د «شوروی» سقوط، اول د هغو خلګو د نظریو او د دوی د معلوماتو پر اساس، باید و څیړل سی، چې تر هغه نظام لاند نږدی ۷۰ کاله د سل ګونو میلیونی انسانانو، ژوند تیر سوی. او همدا رنګه باید دقیق وښودل سی، چې د هغه سیستم «سقوط»، څنګه «لیبرالانو» ته کوم «بریالیتوب» ورته، په برخه سوی. لمړی کله چې سیستمونه مقایسه کیږی، نو په هر صورت کښې د اخلی اړیکو او بیا د باندنی اړیکو، چې د دولتینو اړیکی دی، توپیر په نظر کښې ونیول سی. د یوی داسی ټولنې په باب اصلاً د حقیقی تصویر تر لاسه کول، د کتاب او حتی کتابونو په حجم سخت ښکاری، څه دا چې څوک پر یو «نقل قول» باندی اکتفاء وکړی او د یوی مقالی په محدوده کښې د یو معقول تصویر د ایجادولو انتظار ولری چې ممکنه نه بریښی. په «پانګوال» غربی نظام کښې، یواځی د «لیبرال» تر نامه لاندی «سیاسی» حاکمیت وجود نلری. دلته


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

دولتونه دی، چې د هغو د «حقوق د دولت» اداره، د ډیرو متفاوتو نظریو د پیروانو له خوا، پر مخ بیول کیږی او دائماً لازم تغییرونه پکښې لیدل کیږی. که د لمړنی لیکوال هدف «پولیمیک» وی، بیا د مناقشی ارزش نلری. د هغه وخت څخه راهیسی ډیر متفکرین، د بین المللی مناسباتو له مخی، دا «یو قطبی» جهان، د صلحی په ګټه نه بولی. اما دلته بیا کله چې د دیموکراسی کلمه یادیږی، او په ټولنه کښې د حاکمیت د استقرار مطلب په پام کښې وی، بیا د «البرت اینشتاین» د نقل قول حقیقت راته برملا کیږی چې وائی: **«د احمقانو حاکمیت نه تابع کیدونکی دی، دا ځکه چې دوی ډیری دی، او د دوی رایه هم همدا ډول دقیق شمیرل کیږی، لکه زموږ د رایی په شان»**

داسی یوه «کاپی» د «دیموکراسی» وجود نلری، چې انسانان ټول، ورباندی «عاشق» او په کامل باور او اعتماد سره، همیشه دوی ته د دفاع وړ وی. د مثال په توګه «هنا آرینت» چې د «نمایندګی» دیموکراسی سره مخالفه وه، ویلی چې که دیموکراسی د حسابی اعداد له مخی، د هغی خوا حاکمیت قبول سی، چې د «اکثریت»عدد خاوند وی، نو دا امکان سته، چې «اقلیت» د «استبداد» سره مخامخ سی، کله چې دا اقلیت، د اکثریت د «نظر» سره «موافق» نوی. «هنا آرینت» وائی چې، د «دیموکراسی» وظیفه هم دا ده، **«چې د اقلیتونو د حقوقو، ساتنه هم وکړای سی»**
همدا رنګه، ټول شاهدان دی، چې د دی جهان لوی قدرت په خاوره کښې، پدی یوه دوره کښې د مخه، داسی څوک قدرت ته ورسید، چې په ټول جهان او هم د امریکی په داخل کښې د «پاپولیزم» تر سیوری لاندی د ده د بریالیتوب د پاره، د هغې خبری کیدلی، چې په پای کښې، ده ته، د سپینې مانی د داخلیدو چانس برابر کړای سو. دا هم باید هیر نسی چې همدا «پاپولیست» کاندید، د «جمهوری غوښتونکو»، محافظه کار ګوند، تر «چپنی» لاندی «پټ» کار کاوه. په پای کښې جمهوری خواه ګوند هم، «سپینی مانی» ته د ده د داخلیدل، هرکلی وکړ. دا هم ټوله دنیا ته معلومه ده، چې د «ترمپ» په دوره کښې، د ځینی «ټولنو»، «نیشنالیستان» او حتی د «راسیزم» پلویان، او نور ارتجاعی «ډلګیو» هم خوښی ښودله. وروستی واقعی نه یوائې د امریکی په سیاسی کړیو کښې د درز او د نفاق د زیږیدو احساس سوی، بلکه د ستر جمهوری خواه ګوند، راتلونکی سیاست ته به هم، احتمالاً د بی اعتمادی حس را وپارول سی. دا پوښتنه به تر ډیره وخته مطرح وی چې په دوی کښې څوک د «ترمپ» ملاتړ وو او څوک نه؟ دا په هیڅ صورت پدی معنی نه وه او نه به وی، چې د دی یاد سوی «ناسیونالیستی» او د هغو «راسیستي» ډلګیو لاره، به پر حق ولاړ وی او یا دا چې د دوی، «نیشن» مفهوم به هم «تصنعی» نه وی. اوس هم دغه «دیموکراسی» وښودله، چې په دیموکراسی کی هم دا امکان سته، لکه څنګه چې «کارل رایموند پوپر» ویلی، چې د حکومت «بدلیدنه» باید بیله وینی تویولو څخه، صورت و مونډلای سی. اوس هغه څه چې، د امریکی په «دیموکراسی» کی څو ورځی د مخه واقع سوی، د امریکی د «حقوق دولت»، به دا توان ولری، چې متخلفینو ته د قانون زور و ښیی. اوس که دلته او هلته د «نیشنلیزم» پلویان، حضور ولری، لکه څنګه چې لمړی لیکوال هم لیکی، دا معنی هم نلری، چې «نیشنالیستی آیدیالوژی» په باب، باید «شک» وجود ونلری.

د ګران لوستونکو، توجه د دی لیکوال دی تعریف ته هم اړول غواړو چې لیکی: **« په دې مقاله کې د نشنلست څخه مراد <u>هغه کسان دي چه خپل اولس، ملي سرحداتو او ملی هویت ته ژمن دی او د نشنلیزم تورو اړخونو ته پاملرنه نه ده شوی.</u>»** داسی ویره سته چې د داسی افکارو پیروان، مبادا، داسی «کسانو» ته، د «ملائکو» مقام ورنکړی. د بلی خوا څخه، کله چې د «پخوانی شوروی ...»، موضوع بیانوی، نتیجګیری ئی قانع کوونکی او پر مستندعلمی توضیح برابره نده، ځکه چې که د «شوروی سیستم» نور د فعالیت څخه لویدلی وه، نو سیستم به، خپل پرابلمونه درلودله. هغه سیستم وروسته تر نږدی ۷۰ کالو، سقوط کړی، اما زیات تر ۴۰ کاله د لوی قدرت په حیث د جهان په سیاست کی لوی رول درلود، پداسی لنده افاده کښې، حقیقت نسی بیانیدلای، او بیا «د لیبرال دیموکراسی» دقیق ګټه


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

څنګه تجسم سوی. غربي نظام، د «کمونیزم» سره په ظاهره دښمني اعلان کړې وه. دا لوی قدرتونه یو د بل په مقابل کښې، اتومیک «راکټونه» درولي وه. د «آیدیالوژیکي» شعارونه یو بل ته د مرګ خطر نه درلود. هغه «راکټونه» اوس هم، هغه تخریبي او د نابودۍ ظرفیت لري، او په هغه پخواني، ځایونو کښې درول سوي، او که څه هم «شوروي» وجود نلري، د «راکټ» خطر لا پر ځای ده.

دا هر چا ته معلومه ده، چې هر انسان چې د کوم دولت تابعیت لري، پدې ښه پوهیږي، چې هغه دولت به، خپل قلمرو او خپل ټولنیز جوړښت لري. یو عادي انسان چې د یو دولت د قانون تابع دی، حتماً، به ده ته د «تمامیت ارضی» د ساتلو وظیفه د قانون له مخې معلومه وي. د دولت او د هغه د قانوني ارګانونو وظیفه ده، چې د اتباعو امنیت او د خاورې د تمامیت د ساتلو وظیفې، تنظیم کړي. ممکن هر سړی په داسې مقام کښې، نه وي ټاکل سوی، چې د قانون د تطبیق او محافظت صلاحیت ولري. د «نیشنلیزم» د مفهوم او د «نیشنلیستانو» د « نژادپرستی» په خطر باید بیدار و اوسو. یو څوک چې د «ملت» تر نامه لاندې په خپله، ځان منسوب و بولي او ځان او نومولی «ملت» تر نامه لاندې او د «نیشنلیزم» تر مفهوم لاندې، ځان او یا نومولی «ملت» تر نورو برتر وبولي، او دې منسوبیت ته پاملرنه ولري، دا به انسان و انسانیت ته، توهین وي. څکه «نیشنلیزم» یوه فرضي، تخیلي او تصنعي مفکوره ده، چې د شلمې پیړۍ یو نامتو فیلسوف او د سیاسي آیدیالوژۍ تأریخي څیړونکي، «کارل رایموند پوپر»، دې نتیجې ته رسیدلی وو، لکه څنګه چې په وار وار یاده سوي، چې «**آیدیالوژی، د تشو وعدو څخه په غیر، بل هیڅ معنی نلري.**» او کله چې د «نیشنلیزم» او د ډول ډول «دیکتاتوریو» باندې «څیړنې» کړې، دې نتیجې ته هم رسیدلی وو، چې په خپله، دی باید د هیڅ یوې «آیدیالوژۍ» پیروي و نکړي. د «نیشنلیزم» سره دې خپل ضدیت، چې انګیزه ئې د آلماني ټولنې څخه ورته پیدا سوې وه، داسې بیانوي: د آلماني ټولنې پر سرنوشت باندې، دوه «فیلسوفان» نقش درلودلی. یو «**ایمانویل کانت**» چې د «**آزادۍ**» او «**صلحې**» تبلیغ کاوه، او د ده پر خلاف، «**هیګل**» ولاړ وو، چې د آلماني دولتمدارانو ته دا طرحه وړاندې کړې وه چې «**جنګ یوه ضروري پدیده ده**»، او مدعي وو چې جنګ د ده «ملت» ځوان ساتي او د ده د «ملت» د موجودیت ضامن دی. د آلمان «سیاسي» رهبران د دې دووفیلسوفانو تر مینځ د «هیګل» لاره تعیین کړې وه، چې د شلمې پیړۍ په لمړۍ نیمائي کښې، دوه نړیوال جنګونه، د همدې خاورې څخه شروع سوه، او پدې جنګونو کښې، آلماني «راسیزم» د «ناسیونال سوسیالیزم» تر شعار لاندې، د بشریت په تأریخ کښې، نه هیریدونکي، جنایتونو ته میدان برابر کړ، چې د «اکثریت» عالمانو نتیجګیري، دا سیاست بې بنسټه و پیژندل، کوم چې د تیرو لسیزو په اوږدو کې، په خاصه توګه «نیشنلیزم» او «نیشن» موضوعګانې تر څیړنې لاندې نیولي او پدې باب نوی پیژندنې هم تر لاسه سوې دي. د ټولنیز او د تأریخ عالمان، چې ورته د اکثریت ډله او هم «مدرنیستان» ویل کیږي، د «ملت» پدیده، نوی بولي او د بلې خوا څخه د دې اکثریت متفکرین او څیړونکي «ملت» د یوې «تصنعي» او یا د «اختراعي» پدیدې په سترګه ګوري («بینیدیکت اندرسن» هم، د دې موضعګیرې حامي دی).

«ایرنیست ګیلنر»، چې د برتانیې د ټولنیز علومو معروف او نامتو څیړونکی او «فیلسوف» پیژندل سوی، دا مفکوره چې ګواکې «ملتونه» به وجود ولري، د ریښې څخه ردوي او وائي: «**"نیشنلیزم" دی، چې ملت زیږوي، نه پرعکس**»«ایریک هوبسباوم»، د شلمې پیړۍ یو بل «نامتو» برتانوي تأریخ پوه، په خپل کتاب کښې د «ملتونه او ملت پالنې ( «نیشن» او «نیشنلیزم»)»، تر عنوان لاندې، د افسانو او واقعیتونو د توپیر په باب څیړنه کړې، د خپل اثر په مقدمه کښې داسې وائي: «**انسانان ځانته، د پخوا زماني څخه، د «موړ» - ټولنیز اشتراک او د «دوی»- ټولنیز اشتراک، په توپیر سره تعریف لري.**» همدا ډول وائي چې د ۱۵۰ کلونو را پدې خوا د «ملیتونو»


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com



Benedict Anderson
Politikwissenschaftler
سیاست پوه



Ernest Gellner
Philosoph
فیلسوف



Eric Hobsbawm
Historiker
"تأریخ پوه"

(Nationalitäten) او «ملتونه» (Nationen) کلمات یاد سوی او وروسته د «ملی دولتونو» (Natioalstaaten)، اصطلاح هم پیدا سوی چی د پخوانی هویتونو او د «کتګوریو» پر بنا، ذکر سوی. په بل ځای کښی داسی وائی: « **په هیڅ صورت باندی، باید د ملی احساس د قدرت څخه په نړی کښی انکار صورت و نه مومی او یا کښته و نه لوبول سی، تر هر څه د مخه پداسی یو وخت کښی، چی داسی ښکاری، لکه څنګه چی د پردی کینه پدی او یا په کوم بل دول لوبی په شان د مځکی پر سطحی باندی، په اکثرو سیمو کښی، په مسلط شکل، د خلګو د آیدیالوژی په شان وبریښی، مګر، علائم که بیا هم، سخت احساس وسی، مجاز ندی چی د یو تشخیص، پیش بینی او یا د معالجی سره په بدل کی، ونیول سی.**» ("ایریک هوبسباوم")

تر هر څه زیات، د پاملرنی وړ ده، چی دا تأریخ پوه، د «ایرنیست رینان» ( Ernest Renan) د نقل قول پر بنسټ، چی ویلی :«**هیریدنه، او یا حتی غلط پوهیدنه د تأریخ څخه، یو اساسی عنصر د ملت په توسعه کښی پیژندل سوی.**» د همدی، پیژندنی پر بنسټ، د کتاب مؤلف هم خپل، شک د «ملی» آیدیالوژی، او د هغه پر اشکالو باندی، په خپله خوله بیانوی.

اوس تر هر څه د مخه، ترجیح ورکول کیږی، چی د لیکوال د عنوان په اړوند: «د لیبرالیزم او نشنلیزم جدا ل» چی په متن کښی د «لیبرالو دیموکراسیو»، « نشنلزم » او هم د "لیبرال" او "لیبرالیزم" مفاهیم استعمال کړی چی د دی لیکوال له نظر څخه باید، دقت وسی. که «لیبرال»، د «آزاده» په مفهوم قبول سی، نه هر «لیبرال» انسان به حتماً د «لیبرالیزم» په ډله کښی شامل وی، چی ممکن د کومی «آیدیالوژی» تر چتر لاندی د سیاسی قدرت د پاره را ټول سوی وی. د انفرادی «آزادی» طرفداران ټول به «سیاسی» نه وی. خو د آزاد ژوند او د مساوی قانونی حق غوښتنه به کوی. د بلی خوا څخه، لکه څنګه چی د مخه هم وویل سوه، بیا د احسن تکرار په توګه، د یادونی وړ به وی چی د شلمی پیری نامتو فیلسوف، «کارل رایموند پوپر»، «ټولی آیدیالوژیکانی» فقط د خالی (تش) وعدو مجموعه بلل. نو دلته هم باید توجه ولرو چی همدا رنګه یو مفهوم د «دیموکراسی» وجود لری. دیموکراسی، د هیچ یوی ډلګی په انحصار کښی نسی یادیدلای. دلته د«لیبرالو دیموکراسیو»، کوم مشخص او ځانګړی مفهوم نلری. دیموکراسی د پوهانو له نظره، یوه تجربه ده، او دا توصیه تکرار سوی، چی د هری تجربی څخه وروسته، بایده ده چی د احتمالی اشتباه ګانو او غلطیو څخه، زده کړه صورت و مومی. فیلسوفان او سیاسی تیئوریسنان، د «دیموکراسی» پر اشکالو باندی متفاوت نظرونه لری.



»Keineswegs soll die Macht nationaler Gefühle in der Welt von heute bestritten oder heruntergespielt werden, vor allem zu einer Zeit, da es den Anschein hat, als wäre Fremdenhaß in dieser oder jener Spielart in den meisten Regionen des Erdballs die vorherrschende Form der Volksideologie. Doch Symptome, auch wenn sie noch so heftig zu spüren sind, dürfen nicht mit einer Diagnose, Prognose oder Therapie verwechselt werden.«
Eric Hobsbawm

« په هیڅ صورت باندی، باید د ملی احساس د قدرت څخه په نړی کښی انکار صورت و نه مومی او یا کښته و لوبول سی، تر هر څه د مخه پداسی یو وخت کښی، چی ښکاری، لکه څنګه چی د پردی کینه پدی او یا په کوم بل دول لوبی په شان د مځکی پر سطحی باندی، په اکثرو سیمو کښی، په مسلط شکل، د خلګو آیدیالوژی په شان وبریښی. مګر، علائم که بیا هم سخت احساس وسی، مجاز ندی چی د یو تشخیص، پیش بینی او یا د معالجی سره په بدل کی ونیول سی.» ("ایریک هوبسباوم")

پدی هم خبر یو، چی د «پاپولیزم» یو رهبر او حامی، چی د امریکی په متحده ایالتونو کښی، د محافظه کار، «جمهوری خواه» د ګوند تر سیوری لاندی، څلور کاله پخوا، د «نیشنالیستی» په مهر نښانی سوی ډلګیو او د افراطی «سپین پوټکو راسیستانو»، په مرسته، قدرت ته رسیدلی وو، اوس د امریکا او د جهان د پاره، د هغو ناکامی، په



برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

امریکې کښې د دیموکراسی قوت ښکارندوی بولي او دا بریالیتوب د خوښی د سبب په حیث پیژندل سوی. څه موده د مخه، کله چې د ۲۰۲۰ د می د میاشتې په ۲۵ – مه نېټه  د امریکې  په «مینیاپولی» کې چې د امریکې د «مینیسوتا» ایالت پوری مربوط ده، «جورج فلوید» د پولیس له خوا ووژل سو» نو په ټول «متحده ایالتونو» او همدا رنګه په ټوله نړی کښې اعتراضونه را وپارول سوه، او دا عمل هم د «پولیسی زور» او د «راسیزم»، د نفوذ تر سیوری لاندې و بلل سو، چې د «ترمپ» په «شعارو»، لکه: «**امریکا لمړی**» او یا «**زه امریکا بیا لویوم**» قوت موندلی وو.



د آلمان د یو عالی  مکتب، د پوهنتون معادل «پروفسر سکوبل»، دا «قتل» د شلمی پیړی د «اویایمی لسیزی» د واقعاتو سره، شباهت ورکړی، چې د «سپین پوستو» د «راسیزم» او «نژادی تبعیض» سره، سمون درلود. په هغه وخت کښې د ویتنام د جنګ پر ضد او هم د قدرتونو د تسلیحاتی مسابقو پر ضد د ځوانانو او محصلانو اعتراضونه، خپل اوج ته رسیدلی وه، چې د نژادی تبعیض پر ضد هم ولاړ وه. د دی قتل چې د «راسیزم» په  حساب کې ثبت دی، «پروفیسر سکوبل» د «سوریی جنګ» هم، د «ویتنام» د هغه وخت د جنګ سره، مشابه بیان کړی. د «ترمپ» مخالفین، واضح ویلې چې د ده شعارونه «پاپولیستی» او د «سپین پوستو» د «راسیستانو» په میل، تاکل سوی دی. مخالفینو ویل چې «**امریکا پخوا**» داسی «**لوی**» نه وو، چې دی ئې د «**بیا لویولو**» هدف «**تاکلی**» او په حقیقت کښې د «**محافظه کار جمهوری**» د نوم او د جمهوری غوښتنکو د نفوذ څخه هم سوء استفاده کړی.

توله دنیا هم پدی پوهیږی چې، دا «راسیستان» دی چې د امریکې  په تولنه کښې د هر چا څخه، په بی باکی، داسی پوښتنې هم کوی، چې «**نژاد دی څه دی؟**» (what is your race?) او د «پاپولیزم» په شعارونو سمبال سوی ډلګیو، وکولای سو چې د دیموکراسی په انګر کښې، د دولتی «قدرت» رهبری تر لاسه کړی او خپل افکار او شعارونه، پدی لویی «دیموکراسی» کې، تمرین کړی.

اوس هم دا د امریکې د «دیموکراسی» د شتون برکت دی، چې د «پاپولیزم» او «نیشنلیزم»، د لا خرابیو د دوام مخه و نیوله او دا به هم بی ربطه نوی، چې «اورزولا فُن در لاین» (Ursula von der Leyen)، د اروپائی کمیسیون د رئیسی په توګه، د «جو بایدن» بریالیتوب، د « **متحده ایالاتو د بیرته راګرځیدنه د هم فکرانو په حلقه**» کښې بللی.

د دی څخه هم دا الهام اخستل کیدای سی، چې  په «اروپا» او په ټول نړی کښې لویه اندیښنه د «ترمپ» د اداری په اړوند موجوده وه. اوس «ټول» متفکرین، پدی فکر کښې دی چې د «جو بایدن» مخې ته لویی ترمیمی وظایف هم پراته دی، که چیری بریالی سی، چې امریکائیان د دی انشعابی خطر څخه و ژغوری، نو به دی وی چې د امریکا په تأریخ کښې د یو «زوړ» جمهور رئیس په توګه، لوی نوم ولری او بالمقابل که دا هدف سر ته و نه رسولای سی، نو به د امریکې په تأریخ  کښې، ډیر بد نوم پریږدی. مطبوعاتی خپرونی، خبر ورکوی چې، «جو بایدن» لا رسماً وظیفه نه وه اشغال کړی، چې د «اروپائی کمیسیون» مشره، په ډیره بی صبری سره ویلی چې: « **څلور اوږده کلونه وه**»، دا دی اوس اروپا بیرته «**یو نړدی دوست په سپینه مانی کښی لری.**»

د دی مطلب لمړی لیکوال، پدی عنوان کښې، «لیبرالیزم» او «نیشنلیزم» د «جدال» پر موضوع د خپل د «لید» کړکی څخه کتنه تر سره کړی، چې البته دا لیکوال د ده د سلیقی او برداشت په باب، څه ویل نه غواړی اما هیڅ څوک دی هم د دی لیکوال څخه دا توقع و نلری، چې پر دی افکارو باندی د تأئید مهر و وهی، او یا ورسره موافق و اوسی. د ده برداشت د دده حق بولی. خو تر هر څه د مخه دا به ښه وی چې روښانه سی چه آیا، لیکوونکی، «لیبرالیزم» د کومی «آیدیالوژی» او یا  د کومی سیاسی کړن لاری په توګه قبول کړی او، رښینه یی د «لیبرال» (Liberal)، چې


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

د «آزادګی» په مفهوم ده، اړیکه ورکړی او که نه؟ پدی حالت کښی باید توجه ولرو چی د سیاسی «آیدیالوژی» پلویان، د دی اصطلاح تر سیوری لاندی د سیاسی «قدرت» د تر لاسه کولو هدف لری. د «صلحی» او «آزادی» پلویان»، چی د دیموکراسی پلویان او د هر ډول «راسیزم» سره مخالفت لری، ټوله پدی «پوهیږی» چی د مثال په توګه، «کمونیزم» کوم «دین» ندی او هم ټول هغه کسان چی د «کمونیزم» سره ضدیت او دښمنی ښودلی، نه ټول د یوه «دین» پیروان دی او که چیری کوم یو دینی سړی ورسره مخالفت ولری، دا معنی نلری، چی دغه د ینی حتماً خپل د دین د ساتلو په لاره کښی مرسته کړی. هیڅ وخت داسی نه وه او په راتلونکی کښی به هم تغییر و نه مومی. یو بی دین هم کیدای سی، چی د یوی خاصی آیدیالوژی پر ضد ودریږی یا مؤافق وی او هم کیدای سی چی غیر سیاسی موقف ولری. دین او سیاست، دوه مختلفی اهداف دی. دا هم کیدای سی چی هر انسان په خپله خوښه خپلی هڅی که په «انفرادی» توګه وی او که په ډلئیزه، پر مخ یوسی. او همدا رنګه که، لیکوال «نیشنلیزم» د «نیشن (nation)، چی زمونږ په ژبه «ملت» معنی ورته ورکړ سوی، نو بیا هم دا اصطلاح د «نشنلیزم» د پلویانو د خوا ځخه د یوه «تصنعی» او «اختراع» سوی («بینیدیکت اندرسن) مفهوم په توګه د ټولنیز او سیاسی ډیرو څیړونکو له خوا ځخه پیژندل سوی. عالمان «نشنلیزم»، نه د یو «دکترین» خاوند بولی او نه هم د یوی صریحی «آیدیالوژی» په مفهوم قبول کړی. البته دا ډله، د «نژادی تبعیض» او «برتری» موقف په اړوند، د دیموکراتیکو او بشر دوستانو د خوا ځخه محکوم او منفور پیژندل سوی.

د مقالی لمړی لیکوال، خپله مقاله چی پورته هم یاده سوه، پدی عبارت پیل کړی: « د پخواني شوروي اتحاد سقوط...» لمړی باید دی محترم لیکوال ته په بل عبارت هم وویل سی چی د «دیموکراسی» کلمه یوه ده او بیا هم د «دیموکراسی» په مفهوم داسی و پوهیږو چی دا «دیموکراسی» کومه تیاره «طعمه» نده، چی د چا ملکیت وی او څوک دی د هغه د تطبیق اجازه د چا ځخه واخلی، او همدا رنګه د «لیبرالانو» پواځنی هنر او یا د هغو په انحصار کښی وی، چی ورته «لیبرال دیموکراسی» و ویل سی او هم دا رنګه نور مهرونه لکله «دیموکراتیک مرکزیت» یا «سینترالیزم دیموکراسی»، «ملی دیموکراسی»، «سوسیال دیموکراسی»، او داسی نور، چی هر «سیاسی ډلګی» د قدرت د رسیدو د پاره د دی کلمی ځخه کار اخلی. دیموکراسی، د پوهانو د خوا ځخه د یوی تجربی په توګه وړاندی سوی، چی همیشه باید د اصلاح او د تکمیلیدو لاره خلاصه وی.

همدا رنګه، دی دوست ته باید وویل سی چی بهتره به دا وای که «د پخوانی شوروی اتحاد ...» پر ځای پواځی «شوروی اتحاد...» لیکل سوی وای، کافی به وه. دا ځکه چی د سقوط د وخت ځخه وروسته، بیا هغه «سیستم» وجود نلری، چی د نوی او د «زوړ» تر مینځ فرق سوی وای. خو د دی کوچینی مفهوم ځخه که تیر سو، دومره باید وویل سی، چی د «شوروی سیستم» د سقوط عوامل، باید علمی و څیړل سی. پدی لړ کښی د هغه سیستم د پوهانو له خوا ځخه، دقیقتر علمی تحلیل تر لاسه کیدای سی. دا واقعیت ټوله دنیا ته معلومه ده چی د دنیا ځینی سیاسی رهبران په خپله خوله ویلی : «**سوسیالیزم د آزادی پر ځای**» او په مقابل کښی به د دی سیستم مخالفین په بل مفهوم ویلی:

«**آزادی د سوسیالیزم پر ځای**».

پای



برای مطالب دیگر داکتر یوسفی، بالای عکس کلیک کنید




برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!

info@arianafghanistan.com